# لړلیک


| د درس شمېره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| لومړی لوست | د حدیث شریف تعریف | ۱ |
| دویم لوست | د حدیث شریف تدوین | ۴ |
| دریم لوست | نیت او اخلاص | ۶ |
| څلورم لوست | خیر غوښتنه | ۱۰ |
| پنځم لوست | د مسلمان پر وړاندې د مسلمان مسئولیت | ۱۲ |
| شپږم لوست | نیک اخلاق | ۱۶ |
| اووم لوست | شفقت او مهرباني | ۱۸ |
| اتم لوست | طهارت(پاکوالی) | ۲۰ |
| نهم لوست | استنجا او نجاست | ۲۲ |
| لسم لوست | اودس | ۲۴ |
| یوولسم لوست | تیمم | ۲۷ |
| دولسم لوست | صلاۀ(لمونځ) | ۳۰ |
| دیارلسم لوست | آذان او اقامت | ۳۴ |
| څوارلسم لوست | د لمانځه شرطونه | ۳۸ |
| پنځلسم لوست | دلمانځه واجبات او سنتونه | ۴۰ |
| شپاړسم لوست | د لمانځه د اداء کولو طریقه | ۴۴ |
| اوولسم لوست | وتر او سنت لمونځونه | ۴۸ |
| اتلسم لوست | تراویح لمونځ او سنت لمونځونه | ۵۰ |
| نولسم لوست | د لمانځه مفسدات او مکروهات | ۵۲ |
| شلم لوست | په لمانځه کې بې اودسه کېدل | ۵۴ |
| یوویشتم لوست | د ناروغ لمونځ | ۵۸ |
| دوه ویشتم لوست | د سیرت النبي ارزښت | ۶۰ |
| درویشتم لوست | نبوي سیرت او تاریخ | ۶۴ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| څلورويشتم لوست | د اسلام څخه وړاندې د جزيره العرب حالت | ۲۸ |
| پنځه ويشتم لوست | د اسلام څخه د مخه د عربو حالت | ۷۲ |
| شپږويشتم لوست | د پيغمبر اكرم صلی الله عليه وسلم نسب | ۷۶ |
| اووه ويشتم لوست | د نبي كريم صلی الله عليه وسلم ميلاد | ۸۲ |
| اته ويشتم لوست | محمد صلي الله عليه وسلم د ځوانی په درشل كې | ۸۶ |
| نهه ويشتم لوست | د كعبې شريفې جوړول | ۹۰ |
| دېرشم لوست | د نبوت او رسالت په سيوري كې | ۹۶ |
| يودېرشم لوست | د وحي د نزول ادامه | ۱۰۲ |
| دوه دېرشم لوست | خديجه رضی الله عنها | ۱۰۴ |
| دري دېرشم لوست | پټه بلنه(سري دعوت) | ۱۰۶ |
| څلور دېرشم لوست | دارالارقم(د رهبری مركز) | ۱۰۸ |
| پنځه دېرشم لوست | ايمان او ثبات | ۱۱۰ |
| شپږ دېرشم لوست | د يتيم پالنه | ۱۱۲ |
| اووه دېرشم لوست | مرسته او كومک | ۱۱۴ |
| اته دېرشم لوست | د مسلمان پېژندنه | ۱۱۸ |
| نهه دېرشم لوست | د اسلام پنځه بناوې | ۱۲۰ |
| څلوېښتم لوست | حياء | ۱۲۴ |
| يوڅلوېښتم لوست | نيشه يي توكي | ۱۲۶ |
| دوه څلوېښتم لوست | د جماعت لمونځ | ۱۲۸ |
| دري څلوېښتم لوست | د جمعي او اخترونو لمونځونه | ۱۳۰ |
| څلور څلوېښتم لوست | د كسوف او خسوف لمونځونه | ۱۳۴ |
| پنځه څلوېښتم لوست | د جنازې احكام | ۱۳۶ |
| شپږ څلوېښتم لوست | د ميت لمبول او وربانديې د جنازې لمونځ كول | ۱۳۸ |
| اووه څلوېښتم لوست | زكات | ۱۴۲ |
| اته څلوېښتم لوست | د څارويو زكات | ۱۴۶ |
| نهه څلوېښتم لوست | د فصلونو او ميوو زكات | ۱۵۰ |
| پنځوسم لوست | حج | ۱۵۴ |
| يو پنځوسم لوست | د حج فرايض او واجبات | ۱۵۸ |
| دوه پنځوسم لوست | د حج ډولونه | ۱۶۲ |
| دري پنځوسم لوست | د حج متفرقه مسايل | ۱۶۴ |




(c) ketabton.com: The Digital Library

۶- مسواک وهل.
۷- د ږيرې خلالول.
۸- د ګوتو خلالول.
۹- د مخ او لاسونو او پښو درې ځلې پرېمينځل.
۱۰- په ټول سر باندې مسحه کول.
۱۱- د غوږونو شا او مخ په نويو اوبو مسحه کول.
۱۲- لومړی د ښي غړو وينځل. (تَيَمّن)
۱۳- اوداسه کې ترتيب مراعتول.
۱۴- پرله پسې د اندامونو مينځل.
۱۵- دمينځلو په وخت کې د اندامونو سښل.

## ۵- د اوداسه آداب (مستحبات):

د اوداسه آداب په لاندې ډول سره دي:

۱. د اوداسه په وخت کې نسبتاً په جګ ځای کېناستل، چې جامې يې لمدې نشي.
۲. د اوداسه په وخت له خلکو سره خبرې نه کول.
۳. په اودس کې له بل چا نه مرسته نه غوښتل.(مګردا چې عذر ولري)
۴. که ګوتمه يې په ګوته کړې وي د هغې خوځول.چې ورلاندې ځای يې ښه پاک شي.
۵. په ښي لاس دخولې پرېمينځل او په چپ لاس د پوزې پرېمينځل.

**فعاليت**

- **ستاسو له ټولګيوالو څخه دې درې تنه داسې اودس وکړي چې فرضونه ، سنتونه او اداب زده کوونکو ته پکې عملاً وښايي.**

## ۶- د اوداسه مکروهات:

o د اوداسه د سنتو او يا د آدابو ترک کول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- په سجده کې به ښځه څنګلې د زنګنونو سره نښلوي، نارينه به يې جلا کوي.
۴- په سجده کې به ښځه خېټه له ورنونو سره نښلوي او سرې يې جلا کوي.
۵- د لمانځه په ټولو ناستو کې ښځه دواړه پښې ښي طرف ته باسي او په ځمکه کېني.
۶- ښځه به د سجدې په وخت کې څنګلې له ځمکې سره لګوي.

## فعاليت

- يو زده کوونکی دې عملاً دوه رکعتيز لمونځ د خپلو ملګرو په وړاندې ادا کړي. ښوونکی او نور زده کوونکي دې خپلې ملاحظې په آخر کې وړاندې کړي.

## ارزونه

۱- لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:
أ. د ثنا دعا کومه ده او له دې څخه وروسته به لمونځ کوونکی څه وايي؟
ب. د ( ولا الضآلين) نه وروسته کومه کلمه پټه تکراريږي؟
ج. (سمع الله لمن حمده) او (ربنا ولک الحمد) په کوم ځای کې ويل کېږي؟
د.د انتقالاتو تکبيرونه ووایاست.
۲- د ښځې او سړي د لمانځه تر منځ مهم توپيرونه ووایاست.

## کورنۍ دنده

د دې لوست عمده ټکي په خپلو کتابچو کې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اسلام څخه دمخه د عربانودين:

له هغه وخته چې په مکه مکرمه کې د ابراهيم عليه السلام ځوځات (نسل) ميشت شول، اوبيا د عربي جزيرې په نورو سيموکې خپاره شول، نو عربان د ابراهيمي دين پيروان وو. د يو الله بنده ګي بې کوله ،خو د يوې اوږدې مودې دتيريدو وروسته هغوی هغه څه چې بې زده کړي و هغه بې هير کړل، او پرته له ځينو ديني شعائرو څخه نور هيڅ شی هم په هغوی کې پاتې نه و.

## د بتانو دعبادت پيل:

د لومړي ځل لپاره د نوح عليه السلام په زمانه کې د بتانو عبادت پيل شو. د نوح عليه السلام د قوم څخه پنځه تنه د ( ود، سواع، يغوث ، يعوق او نسر) په نامه نيک، ښه او عبادت کوونکي خلک وو، د هغوې مرګ د خلکو د وېرې غم او خپګان لامل وګرځيد، يوه سړي دوی ته وويل: آيا ددوی څيرې ستاسو لپاره د لرګي څخه جوړې کړم، چې د هغو په ليدو سره تاسوته آرامي حاصله شي؟ دوی وويل : هو ! که کولای شې دا کار وکړه .

نو څيرې بې د هغوی د ژوندانه د حالت په شان د خلکو لپاره جوړې کړې د هرې کورنۍ چې به کومه څيره خوښيده هماغه به بې وړه او په خپلو کورونو کې بې کيښنوده، هغې ته به بې کتل او څه اندازه غمونه او انديښنې به بې کميدلې، وخت په همدې توګه تيريده، دويمه او دريمه پيړۍ يو په بل پسې تيرې شوې خو ټولو خلکو به د هغو څيرو سره د لومړنۍ پيړۍ په شان کړنه کوله تر څو څلورمه پيړۍ را ورسيده، خلکو وويل: که چيرې مونږ ددغو نيکو او صالحو اشخاصو د څيرو عبادت وکړو نو دا به الله ته زمونږ د نږدېوالي لامل و ګرځي او دوی به د الله په وړاندې زمونږ شفاعت وکړي، بناء ددغو مجسمو، اوشکلونو عبادت بې پيل کړ،اوراتلونکو نسلونو هم دې کار ته دوام ورکړ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- په جمرو باندې به ګوزار د ګوټو په سرونو کوي.
۳- د جمرو د ويشتلو په وخت کې به (لبيک اللهم لبيک) نه وايې.
۴- اووه واړه کاڼي به د يو بل پسې پر له پسې ولي.
مسأله: که چيرې کوم حاجي ناروغ وي او جمرې پخپله نشي ويشتلای دا ورته روا ده چې دده پرځای بل څوک جمرې ولي، مګر نائب بايد لومړی د ځان لپاره او بيا يې د بل لپاره ولي.

## فعاليت

- زده کوونکي دې پورتني مطالب په انفرادي او يا ګروپي شکل د سوال او ځواب په ميتود سره تکرار کړي .

## ارزونه

۱- لاندې پوښتنو ته ځواب وواياست.
الف: د حج واجبات څو دي؟ په لنډ ډول يې بيان کړئ.
ب: په سعيې کې کوم امور بايد مراعات شي؟
ج: په مزدلفې باندې د دريدلو سنتونه بيان کړئ.
د: د جمرو ويشتل څه وخت پيليږي؟ او څه وخت پای مومي؟ لنډه اشاره ورته وکړئ.
هـ: د يو پرځای د بل جمرې ويشتل څه حکم لري؟
۲- لاندې صحيحو جملو ته (ص) او غلطو ته د (×) علامه کيږدئ.
الف: حاجي به د صفا او مروه ترمنځ سعي د طواف څخه وړاندې کوي.(     )
ب: ټولې جمرې درې دي.(     )

## کورنۍ دنده

پورتنيو پوښتنو ته په خپلو کتابچو کې ځوابونه وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

